VIDC
Vienna Institute for International Dialogue and Cooperation

New Start Cultural Association 2010
انجمن فرهنگی آغاز نوین
Verein „NEUER START“
www.neuerstart.at

# په اتريش کې د تابعيت ګډوالئ د مهاجرت په قاونو کې بدلون

**د انلاین سیيمنار راپور ، پنځم د می ۲۰۲۱**

ژباړه له دري پښتو ته ، اغاز نوين ټولنه

## اجباري اخراج او د اقامت حق

**اجباري اخراج يا ډيپورت څه ته وايي ؟او څرنګه دا کار تر سره کيږي ؟او ددې په وړاندې څه کولای شو ؟**

اجباري اخراج : دا حکم هغه کسانو لپاره دی چې د اقامت حق ونه لري او يايې د اقامت حق سلب شوی وي .

له يوه هيواد ه بايد اجباري اخراج ديوه قانون له مخې وشي معمولا يوه پريکړه ده چې د پناهنده ګی د بهير په پای کې صادیريږي ، په ۲۰۲۰ کال کې ۴۹ افغانان د اجباري اخراج په بنسټ وطن ته ليږل شوي دي .

VIDC د څیړنیز راپورونه په دې هکله خپاره شويدي . البته لينک يې په انګريزئ ژبه دی.

**په اوسمهال کې سوريې هېواد ته اجباري اخراج امکان لري ؟**

په واقيعت کې دې پوښتنې ته ځواب نه شو ويلاي .

د ملګرو ملتو د ګډوالئ کميساري توصيه کوي چې سوريې ته بايد اجباري اخراج صورت ونه نيسي (دا چې ګومان کيږي چې دميشق کې امن دی ) نا سمه ده تر اوسه دا سيمه د اسد قواو سره ده او همدارنګه په سوريه کې سختې اقتصادي ستونزې شته چې د سوريې وضيعت يې بشپړ نا امنه کړی دی، نو د انساني آنده سوريې ته اجباري اخراج ناسم دی .

**د ميرمن تينا اجباري ډيپورت او د ماشومانو رفاهي وضيعت :**

د کوچنيانو رفاهي وضيعت وطن ته د ډيپورت پرمهال ډير د ځيرنې او توجه وړ دی .

د ميرمن تينا اولادونه چې دلته زيږيدلي و د مور او پلارسره يو ځای اجباري اخراج شو ځکه چې مور اوپلار يې دلته د هستوګنې اجازه نه درلوده ، نو ځکه ورته د ماشومانو د رفاه کوميسيون جوړ شو ، تر څو وڅيړي چې اجباري اخراج د ما شومانو په سلامتئ او رفاهي وضيعت څه اغيز لري .

**د اقامت حق :**

دا اصطلاح د اقامت حق په قانون کې نشته .
دا د مهاجرت په قانون کې په دوو متفاوتو معناو تنظيم شوی ده ، که د پناهنده ګې غوښتنه رد شوی وي کولای شي د اقامت د حق غوښتنه وکړي .

Asyl§55 دپنا هنده ګی ۵۵ ماده:

د پناهنده ګی په بهیر کې د ځیرني لاندې نیول کیږي چې شخص څومره موده اتریش کې پاتې شوی دی ، ایا شخص په ښه توګه ادغام شوی د ی ؟ او یا د پنځه پنځوسمې مادې شرایط لري که نه ؟ د وضیعت خاص بدلونونه یې ملاحظه کیږي .

ستونزه چې دلته وجود لري داده چې ایا شخص د پناهنده ګی په بهیر کې د اقامت د حق درخواست نه لري او د پناهنده ګې په روان بهیر کې کیدای شي له هیواده اخراج شي .

د پناهنده ګي د قانون مطابق د اقامت حق باید په هغه دلایلو چې ذکر شویدي صورت وموميي (د کورنی او خصوصي ژوند په حفاظت).

**Asyl §55 د ځانګړو ملاحظو موارد:**

د اقامت دا اجازه او یا د اقامت حق د پناهنده ګی په دوران کې نه ځیرل کیږي همدارنګه د غوښتني په دوران کې ددې نوعې اقامت د اخراج امکان هم شته .

له دې پرته نور لازم شروط هم شته ، د لازمو شروط پرته نور موارد هم شته مثلا کافي درامد ، په اتریش کې پنځه کاله اقامت چې نیم یې درې کاله حسابیږي .

**پوښتنه :**
**ایا اقامت Aufenthaltsberechtigung سور سپین سور کارت دی؟**

چې ځینو شرائطو ته اړ دی چې وروسته د یوه کاله د اقامت دا اجازه په سور سپین سور باندې بدلون موميي .

**پوښتنه :**

**Daueraufenthalt EU په اروپايي اتحاديه كې كوم يوسند غوره دی، د دائمي اوسېدو سند كه د پناهنده ګی د اوسيدوسند؟**

دې پوښتني ته مطلق ځواب نه شو ورکولای، مګر دایمې اقامت د خپل وطن د وضیعت په اساس نه اخستل کیږي

**له لسو کلو وروسته د تابعیت ورکول :**

**لاندې شرائط لري :**

۱ اقامت **Niederlassung**

لس کاله قانوني اقامت چې پنځه کاله یې Niederlassung ددائمي اقامت حق هغه کسانو ته چې د پناهنده ګی حق لري نه اعماليږی.

هغوی چې بې له وقفې یې لس کاله تیر کړې دي کافي ده .

Niederlassung ددائمي اقامت مهاجرین لکه :

د سورسپین سور د اقامت کارت Rot-Weiß-Rot-Karte plus، یا د اروپايي اتحادې دائمي اقامت.Daueraufenthalt EU

هغه پناه غوښتونکي چې غوښتنلیک یې په جریان کې دی او یا مؤقت اقامت ولري دربرنه نیسي .

۲، د الماني ژبې د ب ۱ سند

په اتریش کې د کوچنیانو د زده کړې او ښونځیو سند کافي دی Lehrabschlussprüfung

۳، د اتریش هېواد لومړي معلومات او پوهه.

ددیموکراتیک نظام پیژندل ، د اتریش هېواد په تاریخ پوهیدل ، د امتحان لپاره د سایت نه واخیستل شي .www.staatsbuergerschaft.gv.at

۴، متقاضي باید په کافي کچه خرڅ او لګیښت ولري ، یعنی متقاضي باید وتوانیږي خپل لګښت په دایمي ډول تامین کړای شي .

ددې کار لپآره باید متقاضي ۳۶ میاشتي متواتر کار کړی وي او د خپلو تیرو کلو درامد قانوني مرجع ته وروه ښایي .

د کافي او مناسب معشیت نمونه:

یو زوج چي یو ماشوم ولري د کور د کرایي سره چي شپږسوه یورو کیږي د کور د نور لګښت سره باید خالص عواید یې ۲۰۳۰ یورو وي (۲۰۲۱)

**پوښتنه : کوم موارد په عوایدو یا درامد کې حسابیږي؟**

AMS د خدمات بازار کاراو قانوني کاري مرستي او د ټولنیزو مرستو لاس ته راوړلو په هکله د کار د اداري مزایا څه ده ؟

په اصل کې اجتماعي مرستي اخیستل مانع نه لري ، مګر ښایي چي کیدای شي متقاضی کافي درامد نه لري نو په دې صورت کې دی چي متقاضي اجتماعي مرسته اخلي .

۵، مخکنی بد شالید نه لرل :

» متقاضي باید د محکمي له خوا محکومیت ونه لري .

» عمدي جرمي ارتکاب ونه لري چي مجازات یي حبس وي

» اداري جدي تخلف یي نه وي کړی مثلا د جلولو د مقرراتو لار شود او په سړک موتر وانی

» هغه واده چي یوازې د اقامت لپاره شوی وي .

» د تره ګرو سره نږدې اړیکي .

» نور لازمو شرا ئط

» د نړیوالو اړیکو عدم خدشه دار کول ، د اتریش ملي ګټو ته ضرر نه رسول ( د تابیعت د ورکړې له پلوه ) ، د فعلي تابیعته استعفا کول تر هغه چي قابل قبول وي ، هغه صورت کې په غیر خودکار ډول فعلي او یا پخوانی تابیعت مثال :

» د افغانستان په هکله یو کس یو اطمینان لیک تر لاسه کوي بیا باید شخص خپل پخوانی تابیعت په دوو کلو کې ترک کړي د نه په صورت کې د اطمینان لیک اعتبار ساقط دی .

» په اتریش کې د یو کلي ارزیابۍ لپاره به د متقاضی داجتماعي ژوند لپاره دغه ډول ټول موارد د اقتصادي او فرهنګي ادغام او د اروپا دیموکراتیکو ارزښتونو ته ژمنتیا ښایي.

**د شپږو کلو وروسته د تابیعت ورکړه :**

د ساده تابیعت اخیستل هغه وګرو ته د (۱-۵ کال) عمومي شرائط ولري او له دې پرته لاندې شرائط هم ولري :

» د ب ۱ د ژبې سند ولري

» د ښه ادغام ثبوتول

» درې کاله په يوه عام المنفعه ټولنه يا سازما ن کې په خپله خوښه کار کول د يوې حرفې او شغل زده کول د تعليمي يا اجتماعي او يا روغتيايي ځانګو کې .

**د کنونسيون پاسپورت تجديد:**
**څه ته بايد توجه وکړو ،او څه ماته پيښيږي ؟**

تاسي نه شئ کولای خپل پاسپورت تمديد کړئ فقط کولای شئ د هغه لپاره بيا درخواست ورکړئ ، د پناهنده ګی د حق او د پاسپورت په منځ کې توپير شته ، د پناهنده ګی حق يو نړيوال ملاتړ او حمايت دی او پاسپورت يو سند دی، چې تاسي ته اتريش او نورو هېوادو ته د تګ راتګ اجازه درکوي .

**دغوښتني او تجديد لپاره نور الزامات او شرائط :**

- ديوې فورمي ډکول .
- زنګه انځور (۴۵ په ۳۵) .
- د هويت د تثبيت لپاره تذکره (چې انځور ولري).
- د پناهنده ګی د مثبت ځواب سند (د قبوليدو سند ).
- د زيږون سند (تذکره ) .
- نکاح خط ( د واده په صورت کې ).

د ماشومانو لپاره د حضانت د حق سند :

اوسنی حالت ( کويد ۱۹) .

ته غوښتنليک د ايميل BFA-AST.Einlaufstelle@bmi.gv.at له لياري وشي او ټولې اړوندې پاڼې سکين او وليږل شي .

تقريبا پنځه مياشتي وروسته يو احضار صادريږي او په احضار نامه کې ليکل کيږي چې نورو کومو اسنادو ته اړتيا ده .

- ګوته (شصت ) هم اخيستل کيږي .
- د دلائلو پر بنا امتنا ع ممکنه ده .
- نور توافقات BFA کې ممکن دي .

**د امتنا ع دلايل څه دي او زما لپاره څه معنا لري ؟**

دا هغه دلايل دي چې کيدای شي د کنوانسيون پاسپورت د صدور مانع وګرځي ، دا حالت د پناهنده ګی په بهير هيڅ اغيز نه لري ، يوازې ددې باعث ګر ځي چې شخص پاسپورت وانخلي ، مثلا ددې احتمال وجود ولري چې له پاسپورت ناقانونه ګټه واخيستل شي .

**مؤقته پناهنده ګی څه ده ؟**

دا په دې معنا ده چې شخص اتريش کې لومړی يوازی د درې کلو د اوسيدو اجازه لري ، ددې اوسيدو اعتبار يوازې درې کاله دی وروسته په اتوماته بڼه د پناهنده ګی د نامحدوده وخت لپاره تمديديږي .

شخص کولای شي د پاسپورت لپاره غوښتنليک ورکړي خو دې کار لپاره مجبور نه دی

ددې پاسپورت اعتبار شايد پنځه کاله وي .

لازم دی وويل شي چې ددې پاسپورت يا ګذر نامې په پناهنده ګی هيڅ اغيز نه شته .

**کوم کسان کولای شي د ګذر نامې Fremdenpass لپاره غوښتنليک ورکړي؟**

هغه کسان چې د مؤقتي اقامې سند Subsidiär Schutzberechtigte ولري، دا هم هغه مهال کولای شي چې قانوني مانع وجود ونه لري مثلا شخص پرته له دې بل هيڅ ګذرنامې يا پاسپورت ته درخواست نه شي ورکولای .